مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ
۲۰۲۳/۱۱/۲۴

# د يهودو عادلانه جګړې

(څلورمه برخه)



(په غزه کې د اسراییلو وحشي وژنې)

**د اسراییلو جګړه مار خدای یهوه جګړې ته درومي: (۲)**

یوشع د نون زوی، د موسی مرستیال او د موسی د جګړو قوماندان ؤ، نوموړی تر ټولو اسراییلو لوی بې رحمه او ظالم کس ؤ، یوشع د موسی له مرګه وروسته د هغه ځای‌ناستی او د اسراییلو مشر وټاکل شو، یوشع ته د اسراییلو خدای یهوه د موسی په څېر دنده سپارلي وه چې د کنعان اوسیدونکي قتل‌عام کړي او د یهوه لخوا ورکړل شوي (موعوده) ځمکه لاندې کړي.

د یوشع ټولې جګړې وحشیانه او ناانساني وې چې د خپل خدای یهوه په امر یې ترسره کړي دي. د اسراییلو له خرافاتو یوه دا ده چې یهوه د یوشع په غوښتنه د جګړې پر مهال په آسمان کې لمر او سپوږمۍ درولي. یوشع په داسې حال کې له یهوه خدای سره خبرې کوي چې د انسان په بڼه توره په‌لاس ولاړ دی او هغه ته سجده کوي. د اسراییلو په لرغوني کتاب(عهد عتیق) کې وروسته د شریعت له پنځو کتابونو څخه، شپږم کتاب د (یوشع) په نوم دی. په نوموړي کتاب کې د نورو مسایلو ترڅنګ د یوشع لخوا د وحشیانه جګړو یادونې راغلي دي، یوشع د جګړې پرمهال له یهوه سره لیدنه کوي.«کله چې یوشع د اریحا ښار ته نږدې شو، سترګې یې په یو **توره ایستلي سړي** ولګیدې، یوشع د هغه پر لورې ورغی تپوس یې وکړ، دوست یې که دښمن؟ هغه سړي یوشع ته وویل: زه د یهوه خدای د لښکر مشر یم. یوشع سجده


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

وکړه او ورته ویې ویل: هر ډول امر چې لرې خپل مریې(بنده) ته یې وکړه. هغه یوشع ته وویل: څپلی دې وباسه، ځکه چې په کوم ځای چې ته ولاړ یې سپېڅلی دی، یوشع اطاعت وکړ.»[1] (د یوشع کتاب ۵ باب۱۳تر ۱۵آیت پورې)

د اسراییلو جګړهمار خدای یهوه له یوشع سره په ټولو جګړو کې مل ؤ او د اسراییلو پر پلوی یې رنګارنګ جګړې کولې، هغه مهال چې یوشع د سورېې په جنوب لویدیځ کې په جګړه لګیا ؤ، نو «کله چې دښمن بیتحورون ته ورسید **یهوه له آسمانه پر دوی زېږه ږلی راووروله**... او د دوی ډېر کسان یې ووژل، د ږلی له امله د وژل شویو کسانو شمېر له هغې ډېر ؤ چې د اسراییلو په تورو وژل شوي وو. سره له دې چې اسراییلو د دښمن ځواکونه تر ښارني لاندې نیولي وو او هغوی کمزوري شوي وو خو یوشع د بني اسراییلو پر وړاندې له یهوه غوښتنه وکړه ویې ویل: اې لمره! د جبعون [ښار] پر سر او اې سپوږمۍ! د ایلون درې پر سر له خپل حرکته ودرېږئ. لمر او سپوږمۍ تر هغې پورې ځایپرځای ولاړ وو چې اسراییلو خپل دښمنان له منځه یوړل او لمر ټوله ورځ د آسمان په منځ کې له حرکت څخه پاتې ؤ[2]، د لمر او سپوږمۍ دا ډول درېدل چې د یو انسان د غوښتنې پر بنسټ رامنځ ته شوي وو، هېڅکله نه دي لیدل شوي او نه به ولیدل شي. په حقیقت کې **دا یهوه خدای ؤ چې د بني اسراییلو لپاره جګړېدهٔ.»** (یوشع:۱۱/۱۰تر ۱۵پورې)
یوشع اسراییلو ته د دوی د ځانګړي خدای یهوه د هغو کړنو یادونه کوي چې د اسراییلو له دښمنانو سره یې د یو بې رحمه کس په څېر ترسره کوي، د یوشع په کتاب کې د اموری د پنځو پاچاهانو یا د سیمو د مشرانو په اړه وایي چې وروسته له هغې چې په جګړه کې یې ماتې وخوړه نو هغوی په یو غار کې پټ شول، یوشع هغه پنځه تنه پاچاهان له غاره راوایستل. «یوشع د اسراییلو ټول سرې راغوښتل، هغه مشران چې له ده سره وو، هغو ته یې امر وکړ چې خپلې پښې د دغو پنځو پاچاهانو پر غاړو کېږدئ او هغوی همداسې وکړل، بیا یې خپلو کسانو ته وویل چې له چا مه ډارېږئ او خپل جرأت له لاسه مه ورکوئ، بلکې ځواکمن او شجاع اوسئ **ځکه چې یهوه خدای ستاسو له ټولو دښمنانو سره دا ډول چلند کوي.»** (یوشع:۱۰/۲۴-۲۵)
د یرغلګرو اسراییلو سره په جګړو کې د دوی جنګي خدای یهوه یو ځل بیا د خپل قوم لپاره پر ښارونو او سیمو تېرې کوي، خلک وژني او ځمکې ترې نیسي، وروسته له هغې چې یوشع د اموري پنځو پاچاهانو ته ماتې ورکړه نو پر څو ښارونو یې پرله پسې بریدونه وکړل، د مقیدې (مقیده) ښار یې اشغال کړ، بیا یې پر (لبنه) برید وکړ او هغه یې لاندې کړ، وروسته یې د (لاخیش) پر ښار برید وکړ. یوشع د یهوه په امر پر (عجلون) برید وکړ، د حبرون، دبیر، ښارګوټې یې ونیول او ټول اوسیدونکي یې قتل عام کړل.

---

[1]: د دې لپاره چې اسراییلي حاخامان خپل خدای یهوه ته د لوی ښتن مقام ورکړي، د پورته آیتونو په تفسیر کې، توره په لاس سړی یې پرښته بللي چې دا ډول تفسیر سم نه ښکاري، په دې دلیل چې د یهوه د لښکر مشر پخپله یوشع ؤ، د اسراییلو په دیني کتابونو کې پرته له یهوه څخه انسان، پرښتې یا بل چا ته سجده کول منع دي او سزا یې مرګ ده. له بل پلوه یوشع ځان د اسراییلو پیغمبر او نبي بولي، له دې کبله یوشع هېڅکله هم بې له یهوه بل چا ته سجده نه کوي او پرته له یهوه خدای څخه د پرښتو بندګي هم نه کوي، په دې بنسټ ویلی شو چې یوشع د خپل ځانګړي جګړمار او خیالي خدای یهوه سره چې د سړي په بڼه څرګند شوی ؤ، مخامخ شوی دی.

[2]: د یوشع او اسراییلو دا ډول افسانې چې یهوه د خپل قوم لپاره لمر او سپوږمۍ درولي وو امکان نه لري، یهوه چې د اسراییلو یو خیالي خدای ؤ نه شي کولی دا ډول کړنې ترسره کړي، د لمر یا سپوږمۍ درول یوازې د لوی ښتن الله تعالی واک دی چې د ټولو کایناتو خالق دی.
﴿وَهُوَ الَّذِي خَلَقَ اللَّيْلَ وَالنَّهَارَ وَالشَّمْسَ وَالْقَمَرَ ۖ كُلٌّ فِي فَلَكٍ يَسْبَحُونَ﴾
**ژباړه:«هماغه الله دی چې شپه، ورځ، لمر او سپوږمۍ یې خلق کړل چې هر یو پر خپل مدار حرکت کوي او ګرځي.»**
(د انبیاء سورت: ۳۳)
لمر، سپوږمۍ او ځمکه په حرکت کې دي ځمکه او سپوږمۍ دوه ډوله حرکتونه لري چې یو یې وضعي او بل یې انتقالي حرکت دی، ځمکه په ۲۴ساعتونو کې پر خپل چاپېر ګرځي او دغې حرکت ته وضعي حرکت وایي، د ځمکې انتقالي حرکت د لمر چاپېره ترسره کېږي چې یو کال وخت نیسي او څلور فصلونه جوړوي.
سپوږمۍ د ځمکې په شاوخوا باندې خپل انتقالي حرکت په ۲۹ورځو، ۱۲ ساعتونو او ۲۴دقیقو کې بشپړوي او د ځمکې په څېر د لمر پر شاوخوا تاوېږي.
ساینس پوهان وایي چې لمر هم په حرکت کې دی او پر خپل محور تاوېږي... خو په داسې حرکت کې نه دی لکه اسراییلو چې لیکلي دي، شپه او ورځ د ځمکې د چورلیدو له امله رامنځ ته کېږي نه د لمر د حرکت له امله.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

«د اسراییلو قوم ته لکه څرنګه چې یهوه امر کړی ؤ، د هغې سیمې ټول استوګن یې ووژل، له قادش برنیع تر غزې، جوشن او جبعون پورې یې ټول خلک ووژل، دغه ټولې بریاوې په یو ځلې لښکرکشۍ کې له دې امله ترسره شوې چې **د اسراییلو خدای یهوه د خپل قوم لپاره جګړېدهٔ.»** (یوشع: ۱۰/۴۰تر ۴۳پورې)

وروسته له ډېرو کلونو چې یوشع ډېر بې ګناه خلک وژلي وو، نوموړی هم زوړ شوی ؤ خو بیا هم د بې ګناه خلکو د ځمکو د غصب کولو فکر یې په سر کې ګرځیدهٔ. د یوشع په کتاب کې د یوشع د وصیت تر سرلیک لاندې راغلي دي چې «یوشع اسراییل راوغوښتل ویې ویل: څه چې ستاسو خدای یهوه ستاسو لپاره تر سره کړل تاسو ولیدل، **هغه پهخپله ستاسو له دښمنانو سره جګړې وکړې.** کومې ځمکې چې تاسو نیولې دي او هغه ځمکې چې لا مو نه دي نیولې، تاسو ته مې لا دمخه وېشلې دي، دا ټولې ځمکې چې **(د اردن سیند څخه د مدیتراني تر لوی سیند پورې پرتې دي)** ستاسو دي، لکه څرنګه چې یهوه خدای ژمنه کړې ده، دغه قبیلې چې په دې سیمه کې پاتې دي یهوه به یې پهخپله له دغې ځمکې وشړي چې بیا به تاسو پهکې استوګن شئ.» (یوشع:۲۳/۳-۴-۵)

یوشع د خپل وصیت په اوږدو کې په ډېر افراط سره زیاتوي چې«ستاسو هر یو تن کولی شئ چې د دښمن له زرو کسانو سره جګړه وکړئ او هغوی مات کړئ، ځکه چې **ستاسو خدای یهوه لکه څرنګه یې چې ژمنه کړې ده، ستاسو پر ځای پهخپله جګړه کوي.»** (یوشع:۲۳/۱۰-۱۱)

کله چې فلسطینیانو پر اسراییلو د برید تکل وکړ نو اسراییل سختې وېرې اخیستي وو، اسراییلو له سموییل نبي غوښتنه وکړه چې یهوه خدای ته د مرستې دعا وکړي تر څو له فلسطینیانو یې وژغوري، سموییل دعا وکړه «هغه مهال چې سموییل پر قرباني بوخت ؤ، فلسطینیان جګړې ته راغلل خو **یهوه خدای له آسمانه د پرکې (برېښنا) په څېر غورزې پرې وکړ،** فلسطینیان خواره شول او اسراییلو ماتې ورکړه.» (د سموییل لومړی کتاب:۷/۱۰)

هغه مهال چې د اسراییلو د یهودا[3] پاچا یهوشافاط خبر شو چې موآبیان او عمونیان برید پرې کوي، نو هغه د موآبیانو او عمونیانو پر وړاندې د جګړې او دفاع ځواک نه درلود، نو له یهوه خدای څخه د مرستې غوښتونکی شو، دا وخت د یهوه روح پر یو تن یحزییل نومي کس باندې کېناست او ویې ویل:«ای د یهودا او اورشلیم خلکو! ای یهوشافاط پاچا! ماته غوږ شئ! یهوه خدای وایي: مه ډارېږئ! د دښمن له دغه ځواکمن لښکر څخه مه وېرېږئ ځکه چې تاسو جګړه نه کوئ بلکې **ستاسو پر ځای زه جګړه کوم.** سبا له هغو سره د مقابلې لپاره ولاړ شئ... ای د یهودا او اورشلیم خلکو! اړتیا نه شته چې تاسو له هغوی سره جګړه وکړئ، یوازې هلته ولاړ اوسئ او منتظر پاتې شئ، هغه مهال به ووینئ چې یهوه خدای تاسو څرنګه ژغوري. مه وېرېږئ او خپله روحیه مه بایلئ، له دښمن سره د مقابلې په موخه ولاړ شئ چې **یهوه خدای ستاسو سره دی.»** (د تاریخ دویم کتاب:۲۰/۱۵-۱۶-۱۷)

«کله چې ګاونډیو قومونو واوریدل چې **خدای یهوه د اسراییلو له دښمنانو سره جګړیدلی دی،** نو د یهوه خدای وېره پر هغو کېناسته.» (د تاریخ دویم کتاب:۲۰/۲۹)

هغه مهال چې د آشور پاچا سنحاریب پر اورشلیم د برید تکل وکړ نو د یهودا پاچا حزقیا، اسراییل راټول کړل او ډاډ یې ورکړ چې له آشوریانو ونه ډار شي، هغه وویل:«زړه‌ور او ځواکمن اوسئ، د آشور له پاچا او د هغه له لوی لښکر څخه وېره مه کوئ، هغه [یهوه خدای] چې له موږ سره دی، د آشور له پاچا څخه ځواکمن دی، د آشور پاچا له ځان سره لوی لښکر لري، هغوی یوازې انسانان دي، بل څه نه دي **خو له موږ سره زموږ خدای یهوه مل دی چې له موږ سره مرسته کوي، او زموږ لپاره جګړه کوي.»** (د تاریخ دویم کتاب:۳۲/ ۷-۸)

د یهودانو د اشعیا په کتاب کې (د مصر لپاره پیغام) تر سرلیک لاندې وړاندوینه شوې ده چې د اسراییلو خدای له مصریانو سره جګړې ته راځي:**«یهوه خدای په ګړندی وریځ سپور شوی دی، د مصر جګړې ته راځي،** د مصر بُتان د ده پر وړاندې لړزیږي او د مصریانو زړونه له وېرې ضعف کوي. یهوه خدای وایي: مصریان به د یو بل پر ضد واچوم، تر څو وروړ له وروړ؛ ګاونډی له ګاونډي؛ ښار له ښار او هېواد له هېواد سره وجګړېږي.» (د اشعیا کتاب:۱۹/۱-۲)

په ۵۳۸ مخزیږدیز کال کې چې اسراییل په بابل کې له اسارت څخه د پارس د واکمن کوروش لخوا خوشې شول او اورشلیم ته ستانه شول، نو ذکریا چې یهود یې خپل نبي بولي، اسراییلو ته هیله ښونکې وړاندوینې کولې چې د دوی خدای یهوه به بیا د خپل قوم په ننګه ودرېږي، د اسراییلو له دښمنانو سره به جګړې وکړي او د اسراییلو قوم به نېکمرغه شي:**«یهوه خدای به خپل قوم د جګړې پر مهال رهبري کړي، خپل غشي به د آسماني برېښنا په څېر خوشې کړي،**

---

3: د اسراییلو حکومت د دوی د ځانغوښتنو او خپلمنځي جګړو له امله په دوو برخو: اسراییل چې پلازمینه یې سامره او یهودا چې پلازمینه یې اورشلیم ؤ؛ وېشل شوی ؤ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**يهوه به د جګړې برغو (شيپور) وغږوي او د بُربکۍ په څېر چې د جنوبي دښتې څخه پورته کيږي، له دښمن سره د جګړې لپاره ورشي، هغه به له خپل قوم څخه ساتنه وکړي، هغه به د اسراييلو دښمنانو ته ماتې ورکړي او تر پښو لاندې به يې کړي، د بريا خوند به وڅکي او د ښادۍ شور به پورته شي، خپل دښمنان به ووژني او څمکه به د هغوي پر وينو ډکه کړي.** په هغه ورځ به د دوی خدای يهوه د شپون په څېر (چې له خپلې رمې څخه ساتنه کوي) خپل قوم وژغوري، هغوی به په ښکلي او ښېرازه څمکه کې لکه په تاج کې د جواهراتو غوندې وځليږي او د حاصلاتو او شرابو زياتوالی به ځوانان خوشاله کړي.» (د ذکريا کتاب: ۱۴/۹ تر ۱۷پورې)

«زه چې يهوه خدای يم، د اورشليم له خلکو به ساتنه وکړم، د دوی کمزوری کس به د داؤد پاچا په څېر ځواکمن وي او د داؤد سلطنتي نسل به د يهوه خدای او د خدای د پرښتو په څېر د دوی پر وړاندې درومي، **زه غواړم ټول هغه قومونه چې د اورشليم جګړې ته راځي له منځه يوسم.»** (ذکريا:۱۲/۸-۹)

يهودان چې کله له خپل خدای يهوه څخه غوښتنه کوي نو داسې دعا نه کوي لکه لوی ښتن ته چې دعا کيږي، دوی هغه ډول دعا کوي لکه له يو ځواکمن پهلوان (امير کروړ) څخه چې مرسته غواړي:**«ای يهوه خدايه!** زما له دښمنانو سره دښمني وکړه، هغوی چې له ما سره جګړه کوي ته ورسره وجګړېږه، خپل ډال واخله زما مرستې ته راشه، خپله نېزه په لاس کې ونيسه، د هغو کسانو لاره وتړه چې په ما پسې رادرومي، ما ته ډاډ راکړه چې ما به وژغورې... ای خدايه ته په هر څه پوهيږې نو داسې غلي مه کښېنئ، ای يهوه خدايه! له ما لرې مه اوسه، خدايه پورته شه او عدل وکړه او زما له حقه دفاع وکړه» (د مزامير کتاب:۳۵/۱-۲-۳؛ ۲۲-۲۳)







(غږه: اسراييل د انسانيت دښمنان)

نېټه:۱۴۰۲/۹/۲ل. ل

نور بيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ